<u>**مطبوعاتي اعلاميه**</u>

## د ایغور مسلمانانو په ژړا سره د باجوه-عمران کونې رژیم، پاکستان د چینایي ښکېلاک پر وړاندې مات کړ

کله چې چین د ایغور پر مسلمانانو فشار راوړ چې د دوی تر ځار لاندې کمپونو کې د خوګ غوښه او شراب وخوري، نو د ۲۰۱۹ کال د جولای په ۱۹مه د عمران رژیم له ۳۶ نورو هېوادونو سره یو لیک لاسلیک کړ، چې په هغه کې یې د چین هېواد ځکه ستایلی و چې د بشري حقونو په برخه کې د پام وړ لاسته راوړنې لري.

**﴿إِنَّمَا يَنْهَاكُمْ اللَّهُ عَنْ الَّذِينَ قَاتَلُوكُمْ فِي الدِّينِ وَأَخْرَجُوكُمْ مِنْ دِيَارِكُمْ وَظَاهَرُوا عَلَى إِخْرَاجِكُمْ أَنْ تَوَلَّوْهُمْ وَمَنْ يَتَوَلَّهُمْ فَأُوْلَئِكَ هُمْ الظَّالِمُونَ﴾**

[سوره الممتحنه ۶۰:۹]

***ژباړه:*** *الله تعالی مو د هغو خلکو له ملګرتیا څخه منعه کوي، چې ستاسې سره د دین په معامله کې جنګېدلي دي، تاسو یې له خپلو کورونو څخه ایستلي یئ او په همدې برخه کې یې یو د بل ملاتړ کړی دی. له دوی سره چې هر څوک ملګرتیا وکړي، هغوی ظالمان دي.*

دغه رژیم د اقتصادي معاملو لپاره د اسلام پر وړاندې چینایي جګړه ونه غندله. په داسې حال کې چې دا ډول معاملې پاکستان د پور یوې ژورې سوړې ته ورټېل وهي او خپلواکي یې تر پوښتنې لاندې راولي. په داسې حال کې چې د پاکستان د بودیجې لګښت ډېره برخه پر سود ولاړه ده، نو د ۲۰۱۹م کال په مې میاشت کې د باجوه-عمران رژیم په ښکاره وویل، چې په تېرو پرله پسې لسو میاشتو کې یې ټول ۸,۶ میلیونه ډالر پور اخیستی دی. پاکستان ۶,۵ بېلیونه ډالره یوازې د چین پوروړی دی، چې په هغې کې یې ۲,۲۴ بېلیونه ډالره پور د چین له پرمختیایي بانک څخه په لوړ سود اخیستی دی. په دې ډول یې د ظالم چین لاس اوږد کړی او دا په لوی لاس چین ته دا لار هواروي چې د پاکستان د خپلواکۍ رېښې وباسي. سریلانکا هېواد یې هم لومړی په پور کې ډوب کړ او وروسته یې زور پرې راوړ چې د خپلواکۍ له رسوا کېدو سره یې مخ کړي. په دې سره چین خپل سوداګریز بندرونه پراخ کړل، چې اوسمهال ۷۰ سلنه ستراتیژیک بندر په خپل واک کې لري.

**اې د پاکستان مسلمانانو!**

د باجوه-عمران رژیم د مسلمانانو او د دوی د لوی دین پر اړتیاوو او غوښتنو کوڼ او ړوند دی. کبر او غرور د الله سبحانه وتعالی او د هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له اوامرو سرغړونه ده. د باجوه-عمران رژیم د چین له بې ایمانه ملت څخه د شیدو او شاتو رودونه غواړي، چې دا د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې د لویدیځ استعمار له دښمنۍ څخه کم نه دي. د قرآن او سنتو پر ځای د کفري ملتونو څخه د لارښوونې د اخیستو په پایله کې د لویدیځ د یرغل له امله د پاکستان ماتول بس نه و، چې اوس یې بیا تر چنیایي یرغل لاندې په ډېره بې غورۍ سره ماتوي. مسلمانان اوسمهال په رښتینې توګه د خپل ډال نشتون حس کوي. خلافت د هغو ټولو اوامرو پلي کول دي چې الله سبحانه وتعالی یې امر کوي. همدا خلافت و چې خپل زمری (قتیبه بن مسلم) یې واستاوه، څو له خپلې ژمنې سره سم د چین خاورې ته ننوځي. هغه د خلافت په زور د چین په خاوره کې خپله ژمنه پوره کړه او دغه هېواد یې خلافت ته په جزیه ورکولو اړ کړ. انشاالله چې د نبوت پر بنسټ د خلافت په بېرته راتګ سره به ډېر ژر د مظلومو مسلمانانو بدله واخیستل شي، هغه که په ختیځ ترکستان، میانمار، کشمیر، فلسطین او بل هرځای کې وي.

**د حزب التحریر-ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۰هـ.ق کال، د ذوالقعدې ۱۱مه**

**۲۰۱۹م کال، د جولای ۱۴مه**

**د صدور ګڼه: ۶۸/۱۴۴۰**

